مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخڑ ۲۰۲۵/۰۶/۰۲

د یهودو عادلانه جګړې

(اته اتیایمه برخه)

د حماس غورځنګ مشران: شهید یحیی ابراهیم حسن السِنوار او شهید اسماعیل هنیه د بنکلولو په حال کې

د عربو او اسراییلو جګړې

ځانځاني ترهګري: د عربو مشرانو ترورونه (۴)

د ۲۰۲۴ز. کال د جولای په ۳۱مه نیټه، د اسماعیل هنیه له ترور وروسته، حماس ډلې (یحیی ابراهیم حسن السِنوار) د دې غورځنګ د نوي مشر او سیاسي دفتر د رییس په توګه معرفي کړ.

سنوار د ۱۹۸۹ز. کال په جریان کې د دوه اسراییلي عسکرو او ځلورو فلسطینیانو (چې باور یې کاوه د دښمن همکاران دي) د تښتولو او وژلو د عملیاتو د پلي کولو له امله **د اسراییلو لهخوا ځلور ځله په عمري بند محکوم شو او ۲۲ کاله یې په زندان کې تیر کړل.** هغه په ۲۰۱۱ز. کال کې د اسراییلي عسکر ګیلعاد شالیت په بدل کې د (۱۰۲۷) فلسطیني اسیرانو په تبادلې کې خوشی شوی ؤ.[1]

یحیی سنوار د خپلې مورنۍ ژبې عربی سربېره عبري ژبه هم ویلی شوه. هغه عبري ژبه د اسراییلو د بند پر مهال زده کړې وه او د اسراییلي کلتور ژوره پوهه یې هم ترلاسه کړې وه، هغه د قرآن کریم حافظ هم ؤ. د زندان پر مهال،

[1] *"Hamas's pick of Yahya Sinwar as leader makes a ceasefire less likely". The Economist. August 6, 2024.*

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سنوار پنځه کتابونه له انګرېزۍ او عبري ژبو څخه عربی ته وژباړل. وايي چې هغه د تاريخ تر ټولو مصروف او هڅاند زنداني ليکوال ؤ.[2]

په غزه کې د ۲۰۲۱ز. کال د مې په مياشت کې د هغه کور او دفتر د اسراييلو د هوايي بريدونو هدف وګرځېدل. په همدې کال ۲۰۲۱ز. کې، يحيی سنوار يو ځل بيا د حماس د مشر په توګه وټاکل شو او له يوه ترور څخه چې د اسراييلو له خوا ترسره شوی ؤ، ژوندی پاتې شو.

هغه د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر د ۷مې نېټې د حماس د پراخ برید اصلي طراح بلل کېږي. دغې ډلې نړدې دوه کاله د دې لوی برید پلان جوړاوه[3] **او سنوار هڅه درلوده چې حزب‌الله او ايران هم په دې جګړه کې ښکېل کړي. [چې همداسې وشول، حزب‌الله او ايران يې له اسراييلو سره د اکتوبر د ۷مې په جګړه کې ښکېل کړل.]**

يحيی سنوار چې له پخوا څخه د اسراييلو د ترور لېست په سر کې ؤ، د ۲۰۲۴ز. کال د اکتوبر مياشتې په ۱۶مه نېټه د اسراييلو د بې‌پېلوټه الوتکې په يو هوايي برید کې، مصر پولې ته نږدې د رفحې (رفح) په ښار کې ترور شو.

د يحيی سنوار له ترور وروسته حماس غورځنګ پربکړه کړې چې د حماس غورځنګ دې د يو مشر پر ځای، يوه پنځه کسيزه لارښوده شورا جوړه کړي. چې په همدې تړاؤ، والسټريټ ژورنال ورځپاڼې هم د خپلو سرچينو له قوله ويلي: **يحيی السنوار له خپل ترور مخکې حماس ته مشوره ورکړې وه، که دی ترور شي، نو يوه شورا دې د لنډمهالي دورې د مشرتابه لپاره جوړه شي.**

دا پنځه کسيزه شورا د غزې او لوېديځې غاړې د ښلابېلو سيمو له استازو جوړه شوه، نومورې شورا له دغو کسانو څخه رامنځ ته شوې ده: **خليل الحيه، زاهر جبارين، خالد مشعل، محمد دروېش،** دا څلور تنه ټول د قطر په دوحه کې اوسيږي خو د پنځم کس نوم د امنتي دلايلو له امله نه دی ياد شوی چې هغه په غزه کې دننه اوسيږي.[4]

داسې ښکاري چې د حماس د رهبرۍ شورا پنځم کس د يحيی سنوار وروکی ورور **محمد ابراهيم حسن سنوار** وي. محمد سنوار په ۲۰۰۵ز. کال کې د حماس د خان يونس د پوځي لوا قوماندان ؤ. په ۲۰۰۶ز. کال کې هغه د اسراييلي عسکر ګيلعاد شاليت په تښتونه کې ونډه درلوده.[5]
اسراييلي استخبارات له پيله د محمد سنوار د ترور په لټه کې وو چې تر ۲۰۲۱ز. کال د مې مياشتې پورې، **محمد سنوار شپږ ځله د اسراييلو د ترور د هڅو لاندې راغلی ؤ.** حماس ويلي وو چې هغه په ۲۰۱۴ز. کال کې د اسراييلو او غزې د جګړې پر مهال وژل شوی خو وروسته څرګنده شوه چې دا خبر ناسم ؤ.[6]

د ۲۰۲۵ز. کال د مې په ۱۳مه نېټه د اسراييلو پوځ او استخباراتو، شاباک ادعا وکړه چې محمد سنوار د غزې په خان يونس کې د اروپايي روغتون لاندې په يو سنګر باندې د اسراييلي هوايي برید پر مهال په نښه شوی دی. د غزې د روغتيا وزارت د مالوماتو له مخې په دغه برید کې ۲۶ کسان وژل شوي خو د محمد سنوار برخليک لا هم ناڅرګند دی.[7]

---

[2]: *Becker, Jo; Sella, Adam (26 May 2024).* "The Hamas Chief and the Israeli Who Saved His Life". The New York Times

[3]: ارتش اسرائیل کشته شدن یحیی سنوار، رهبر حماس، را تأیید کرد ایران اینترنشنال. ۱۷-۱۰-۲۰۲۴.

[4]: https://www.isna.ir/news/1403080100146/

[5]:Mohammed Sinwar still alive, senior Hamas official claims - report". *The Jerusalem Post*. Retrieved 20 May 2025.

[6]*: Sivan Hilaie (2025-05-28). "Netanyahu confirms: Israel killed Hamas Gaza leader Mohammed Sinwar". Ynetnews.*

[7]*:Israel's latest attacks on Gaza hospitals killed at least 28 people". Al Jazeera. 13 May 2025.*

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د اسراییلو دفاع وزیر، یسرائیل کاتس، ادعا وکړه چې د نښو له مخې، محمد سنوار وژل شوی دی خو د حماس یو لوړپوړي چارواکي، اسامه حمدان، د سنوار وژل کیدل رد کړل، ویې ویل چې د حماس غړي چې په غزه کې دي، ورته ویلې چې سنوار لا ژوندی دی.[8]

محمد سنوار به تل دېر پټ ځان ساته او د صهیونستي استخباراتو د غولونې لپاره یې د خپل مرګ آوازې هم خپرې کړې وې، کیدای شي دا ځل هم د هغه مرګ یوه تبلیغاتي بڼه ولري خو احتمالاً که ترور شوی هم وي د اوس لپاره حماس د یوې لارښودې شورا لخوا رهبري کیږي.

سربېره پر دې چې د اسراییلو لەخوا د حماس د مشرانو او قوماندانانو د ترورونو یادونه وشوه، یو شمېر نور لوړپوړي قوماندانان هم د اسراییلي ترهګرو استخباراتي ادارو لخوا هم ترور شوي دي، **دا چې ولې صهیونستان په خپلو ترورستي کړنو کې بریالي دي؟ په دې اړه به په راتلونکو لیکنو کې وغږیږو.**

دا د محمد سنوار یوازینی انځور دی چې په ګادي کې اخیستل شوی دی، نوموړی نور انځورونه نه لري.

نېټه:۱۴۰۴/۳/۱۳ل. ل

نور بیا

د ښاغلي محمد انور اخڑ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ.

[8] *Mohammed Sinwar still alive, senior Hamas official claims - report". The Jerusalem Post. Retrieved 20 May 2025.*

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ